بسم الله الرحمن الرحیم

## کویډ ۱۹؛ د الله سبحانه وتعالی عظمت او د انسان کمزوري

**(ژباړه)**

کویډ ۱۹ ناروغي په چټکۍ د نړۍ په گوټ گوټ کې د خپرېدو په حال کې ده. نو پر دې اساس دا چانس غنیمت گڼم او غواړم چې اسلامي ټولنې ته لاندې ټکي بیان کړم.

۱. د کویډ ۱۹ مخنیوی د ټولو مسولیت دی، ځکه له کوم توپیر پرته به موږ ټول ونیسي.

۲. اوسنی بحران د مسلمانانو لپاره یو چانس دی، چې د اسلام غوره والی نړیوالو ته وښیي. په ځانگړې توگه د سختیو پر وړاندې د ارامۍ، بشردوستۍ او د فردي روغتیا د لوړو معیارونو په برخه کې. دغه موضوعات په ایمان پورې تړلي دي، چې باید په فردي، ډله ییزو او کاري ساحو کې ښکاره شي.

۳. کله به چې اسلامي امت له داسې ابتلاء (امتحان) یا ناروغیو سره مخ کېده، پر الله سبحانه وتعالی به یې توکل کاوه او په بشپړه عقیده به یې د هغې پر وړاندې مبارزه کوله. موږ له الله تعالی څخه مغفرت غواړو او هغې عقیدې ته پناه وړو، چې مومن پکې د الله سبحانه وتعالی قضا ته تسلیم دی. موږ له دې ناروغۍ سره همدا ډول چلند کوو او په دې عقیده یو، چې الله سبحانه وتعالی په دې سره زموږ ایمانونه معلوموي. هیله مند یم چې دغه ناروغي به اسلامي امت ته د الله سبحانه وتعالی له لوري جزا ورکول نه وي. د رسول الله صلی الله علیه وسلم لارښوونې دا دي، چې د دې ناروغۍ د درملو  د پیدا کېدو له هڅو سره سره خلک مغفرت او غوره کړنو ته دعوت کړو او پر دې بشپړ باور ولرو، چې شفا ورکوونکی یوازې الله سبحانه وتعالی دی. د رسول الله صلی الله علیه وسلم پیروي ډېر اجر لري.که دا پیروي د درملنې لپاره د هغه د لارښوونو په اخیستو کې وي او یا هم د هغه لیدلوري په پوهېدو کې وي، چې مومن یې باید تر لاسه کړي.

صحیح بخاري له ابو هریره څخه روایت کوي، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

**«لاَ تُورِدُوا المُمْرِضَ عَلَى المُصِحِّ»**

**ژباړه:** د احتیاط په توگه، هېڅکله یو ناروغ له بل روغ سره یوځای مه اوسېږئ.

همدارنگه رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

**«إِذَا سَمِعْتُمْ بِالطَّاعُونِ بِأَرْضٍ فَلاَ تَدْخُلُوهَا، وَإِذَا وَقَعَ بِأَرْضٍ وَأَنْتُمْ بِهَا فَلاَ تَهَهِ»**

[بخاری]

**ژباړه:** که مو واورېدل چې په ځمکه کې طاعون دی، هلته مه ځئ او که مو د اوسېدو په ځای کې پېښه شي، نو له هغه ځايه بل ځای ته مه ځئ.

له عایشې رضی الله تعالی عنها څخه روایت دی، چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه یې د طاعون په اړه پوښتنه وکړه او هغه وفرمایل:

**«أَنَّهُ كَانَ عَذَابًا يَبْعَثُهُ اللَّهُ عَلَى مَنْ يَشَاءُ، فَجَعَلَهُ اللَّهُ رَحْمَةً لِلْمُؤْمِنِينَ، فَلَيْسَ مِنْ عَبْدٍ يَقَعُ الطَّاعُونُ، فَيَمْكُثُ فِي بَلَدِهِ صَابِرًا، يَعْلَمُ أَنَّهُ لَنْ يُصِيبَهُ إِلَّا مَا كَتَبَ اللَّهُ لَهُ، إِلَّا كَانَ لَهُ مِثْلُ أَجْرِ الشَّهِيدِ»**

[بخاری]

***ژباړه:*** *طاعون داسې عذاب و، چې هر چا به غوښت، الله سبحانه وتعالی هغه پرې اخته کاوه، خو الله سبحانه وتعالی هغه د مومنانو لپاره رحمت گرځولی دی. هر څوک چې د طاعون په سیمه کې پر دې ناروغی اخته شو، صبر دې وکړي. د الله سبحانه وتعالی اجر ته دې په تمه واوسي او په دې باید پوه شي، چې هېڅ هم نه پرې کېږي. الله سبحانه وتعالی به دې هغه څه جزا ورکړي، چې په تقدیر کې یې ده او مړ شو، نو دې یوه شهید اجر او مقام به ورکړل شي.*

۴. د کوېډ۱۹د مخنیوي او درملنې په اړه اسلام له موږ څخه هغه څه غواړي، چې متخصین یې وایي. دا مو مسوولیت دی، باید جدي یې وگڼو، تر څو نورو کسانو ته زیان ونه رسوو. عبدالله بن عمر له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه روایت کړی، چې هغه وفرمایل:

**«كُلُّكُمْ رَاعٍ وَكُلُّكُمْ مَسْؤول عَنْ رَعِيَّتِه، الإمَامُ رَاعٍ وَمَسْؤولٌ عَنْ رَعِيَّتِه، وَالرَّجُلُ رَاعٍ فِي أَهْلِه وَهُوَ مَسْؤولٌ عَنْ رَعِيَّتِه، وَالْمَرْأَةُ رَاعِيَةٌ فِي بَيْتِ زَوْجِهَا وَمَسْؤولَةٌ عَنْ رَعِيَّتِهَا، وَالْخَادِمُ رَاعٍ فِي مَالِ سَيِّدِه ومَسْؤولٌ عَنْ رَعِيَّتِه، -قَالَ: وَحَسِبْتُ أَنْ قَدْ قَالَ: وَالرَّجُلُ رَاعٍ فِي مَالِ أَبِيهِ وَمَسْؤولٌ عَنْ رَعِيَّتِه- وَكُلُّكُمْ رَاعٍ وَمَسْؤولٌ عَنْ رَعِيَّتِه»**

[بخاری و مسلم]

***ژباړه:*** *تاسو ټول د هغو کسانو مسوولین او سرپرستان یاست، چې تر لاس لاندې مو دي. حاکم د خپل رعیت مسوول او سرپرست دی. سړی (مېړه) د خپلې کورنۍ مسوول دی. ښځه (مېرمن) د خپل مېړه د کور او د هغه د زامنو سرپرسته ده او مسوولیت یې پر غاړه لري. خادم (غلام) د خپل بادار د مالونو سرپرست دی او مسوولیت یې لري. فکر کوم چې ویې فرمایل: یو کس د خپل پلار د مالونو سرپرست دی او د هغه مسوولیت ور په غاړه دی. له شک پرته تاسو هر یو تر خپل لاس لاندې کسانو سرپرستان یاست او د هغوی مسوولیت مو په غاړه دی.*

۵. په اسلامي نړۍ کې دغه بحران د يوه واقعي اسلامي حکومت د نشته پايله ده. مسلمانان پرلپسې د هغو خاينو حکامو له سياسي دسيسو او ناوړه سياسي، اقتصادي ټکنالوژيکي واقعيتونو سره مخ دي، چې تل يې موږ ته زيانونه رسولي او پر موږ يې ظلمونه کړي دي.

موږ دغه حالت هم په سوله او هم په جګړه کې وينو. همدارنګه موږ دغه حالت د کويډ ۱۹ پر وړاندې د اسلامي نړۍ په بې کفايتۍ کې ګورو. په حقيقت کې مسلمانان له شپون پرته رمې ته ورته دي او دغه حالت موږ ته د بدلون لپاره  نه سترې کېدونکې هڅې لا اسانوي.

٦. بشريت اوسمهال له نړيوال ناورين سره لاس او ګرېوان دی، چې د هغه پر وړاندې داسې کسان مبارزه کوي، چې د انسانانو تر ژوند او اسانتيا خپلو اقتصادي راکړو ورکړو او ملاحظاتو ته لومړيتوب ورکوي. د حيرانتيا ځای نه دی؟ هغه قدرتونه چې پر خلکو اټومي بمونه غورځوي او پر هغوی اټومي او شيميايي وسلې کاروي، تر اقتصاد وروسته يې د بشر ارزښت ته په دويمه درجه کې ځای ورکړی.

۷. دا تر ټولو لوی شرم دی، چې لسيزې کېږي خلافت نشته او اوس هم خلک د خليفه د رهبرۍ په غياب کې ژوند کوي. د رجب مياشتې په تېرېدو سره به د خلافت د نشت ۹۹ ياد هم تېر شي. دغه حالت په شرعيت کې او د انساني ليدلوري له پلوه ډېر لوی جرم دی.

اوسمهال ټوله نړۍ د غرب له سياسي او ايډيولوژيک جوړښته ـچې د ډېرو ستونزو لامل دی ـ ځورېږي. کويډ ۱۹ د نړيوال نظم ټينګېدو په اړه ښکاره يادونه ده؛ چې د انسان ساتنه او حالت لوړوالی يې اصلي هسته ګرځولې ده.

**د اسټراليا ـ د حزب التحرير مطبوعاتي دفتر**

**ژباړه: بهير « وياړ»**